# د افغانستان اسلامي امارت
# دارشاد، حج او اوقافو وزارت
# دمساجدو دارشاد او انسجام رياست
# دارشاد او دعوت آمريت
# دخطبو دتنظيم عمومي مديريت

د جمعې دخطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۴/۱/۱۴هجری قمری مطابق ۲۱ /۱۴۰۱/۵هجرى شمسى

## د عفوې او بښنې فضيلت او اهميت داسلام له نظره

**الحمد لله ذي العفو والكرم، فارج الهم والغم، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً صاحب الخلق والشيم صلى الله عليه وعلى آله وأزواجه وصحابته، والتابعين لهم بإحسان إلى يوم الدين وبعد :**

د انسان په طبيعت کې دوه ډوله متضاد صفتونه پراته دي رحماني اورباني صفت اوبل حيواني او ددرندگانو صفت.ددرندگانو دصفت تقاضا غضب اوانتقام اخيستل دي، خو بالعکس درحماني او رباني صفت تقاضا عفوه، بښنه او تيريدنه ده.

عفوه او بښنه د قوي خلکو صفت دى؛ ځکه دقدرت با وجود دخپل مقابل لورى څخه انتقام اخيستل هغه څه دي چې انساني نفس يي په ټينگه غوښتنه کوي او په دې برخه کې د نفس سره مبارزه کول او هغه د انتقام په نه اخيستلو قانع کول سخت کار دى.

په صحيح حديث کې راځي:(**لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الغَضَبِ**) متفق عليه

**ترجمه:** پهلوان هغه نه دى چې خلک ځملوي، بلکې حقيقي پهلوان هغه دى چې دغضب په وخت کې خپل نفس د کنټرول لاندې راولي.

عفوه او بښنه د برلاسي په وخت کې د ضعف او ذلت په معنا نه ده، بلکې په دنيا او آخرت کې د انسان د لويوالي او ځوانمردۍ نښه ده او شيطان خواروي. عفوه او بښنه هغه نيک خوى دى چې الله تعالى يي په اړه مونږ ته سپارښتنه او توصيه کړې ده.

سره دقدرته او توانه چا ته دهغه خطا، اشتباه او گناه وربښل غوره صفت دى. څوک چې بل انسان ته عفوه او بښنه وکړي الله تعالى به يي گناهونه معاف کړي.عفوه اوبښنه د رسولانو، پيغمبرانو او کاملو مؤمنانو صفت دى.

په قرآن کريم کې عفوې او بښنې ته د(العفو) او (الصفح) اصطلاحات کارول شوي دي.

(العفو) په گناه نه نيونه ـ (الصفح) په گناه نه ملامتول، نو صفح له عفوې څخه زياته بليغه ده؛ ځکه ډير کرته انسان عفوه کوي خو له ملامتيا نه تيريږي او دا دوه صفتونه د نيکو او مشفقوخلکو صفتونه دي، ځکه الله تعالى خپل پيغمبر ته امر کوي چې عفو اوتيريدنه خپل خوى وگرځوه او د ناپوهانو له بدې معاملې څخه مخ واړوه. نبي کريم صلى الله عليه وسلم هرچا ته زيات له عفوې او تيريدنې څخه کار اخيست، هغه هيڅکله بدۍ ته په بدۍ ځواب نه ورکاوه، بلکی عفوه يې کوله او هيڅکله يې د ځان

لپاره له چا څخه غچ نه دی اخستی مگر دا چې د الله حکمونه به تر پښو لاندې کیدل، نو هغه وخت به یې د الله تعالی لپاره ورځني غچ اخیست.

بناءً د مسلمان لپاره غوره دا ده چې که هرڅومره کوم انسان له ده سره بدي وکړې؛ دی دې ورسره له عفوې اوبښنې څخه کار واخلي. حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته به وگورو کله چې د ده د لور حضرت عائشې رضي الله عنها په هکله د افک په پیښنه کې د « مسطح » له لوري تور ولگول شو، ده د دې ناروا کړنې سره سره کومه صدقه چې مخکې ورته ټاکلې وه اوبیایې پرې بنده کړه ـ هغه یې بیرته ورته مقرره کړه .

دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها د اِفُک (دمنافقانو له خوا پر عائشه رضي الله عنها دتهمت) د واقعې واقعې په یوه برخه کې فرمایي:(**فَلَمَّا أَنْزَلَ اللهُ هَذَا فِي بَرَاءَتِي قَالَ أَبُو بَكْرٍ الصِّدِّيقُ - رضي الله عنه - وَكَانَ يُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحِ بْنِ أُثَاثَةَ لِقَرَابَتِهِ مِنْهُ وَفَقْرِهِ وَاللهِ لاَ أُنْفِقُ عَلَى مِسْطَحٍ شَيْئًا أَبَدًا بَعْدَ الَّذِي قَالَ لِعَائِشَةَ مَا قَالَ فَأَنْزَلَ اللهُ [وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ] قَالَ أَبُو بَكْرٍ بَلَى وَاللهِ إِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لِي فَرَجَعَ إِلَى مِسْطَحٍ النَّفَقَةَ الَّتِي كَانَ يُنْفِقُ عَلَيْهِ وَقَالَ وَاللهِ لاَ أَنْزِعُهَا مِنْهُ أَبَدًا) صحيح البخاري**

**ترجمه:** کله چې الله جل جلاله دا آیت زما په پاکی کې نازل کړل ابوبکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل- او ابوبکر صدیق رضي الله عنه به مسطح بن اثاثه ته خیرات او صدقه ورکولو دهغه دخپلولۍ او فقر له امله- قسم په الله –جل جلاله- چې زه به هیڅکله مسطح بن اثاثه ته هیڅ شی په خیرات کې ور نکړم پس له دې چې هغه عائشه رضي الله عنها ته داسې (ناکاره)نسبت کړی دی، بیا الله تعالی دا آیت نازل کړ[**وَلاَ يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلاَ تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللهُ لَكُمْ وَاللهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ**] ددې آیت دنازلیدو څخه وروسته ابوبکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل: بلی! قسم په الله تعالی چې زه دا خوښه بولم چې الله جل جلاله را ته عفوه او ښننه وکړي، له دې وروسته یې مسطح بن اثاثه ته هغه خیرات ورکول بیرته پیل کړل چې مخکې به یې ورته ورکولو او وه یې فرمایل: قسم په الله چې زه به دا خیرات ورکول له هغه څخه هیڅکله بند نه کړم.

عفوه باید کمزوري، ذلت او سپکاوی ونه گڼو؛ ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم قسم یاد کړی چې عفوه خپل ښتن ته له عزت، درناوي او لوړې درجې څخه پرته بل څه نه زیاتوي، نو باید خپل ځانونه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه وو په خویونو سمبال کړو او خپلې سینې په ځانگړې توگه د خپلو دوستانو، خپلوانو او گاونډیانو لپاره پرانیزو او په دې هیله و اوسو چې په دې کار سره به مونږ ته الله تعالی داسې جنت راکړي چې پراختیا به یې د آسمانونو او ځمکې په څیر وي او په عفوه او تیریدنې سره به زمونږ عزت، درناوی او درجې لوړې کړي، پرته له شکه الله اوریدونکی او دعا قبلوونکی دی .

د عفوې او ښښنې اهمیت ددې امله زیات دی چې په قرآن کریم کې د عفوې په اړه زیات آیاتونه راغلي دي او الله تعالی مسلمانانو ته په عفوه او ښننه امر کړی دی ، عفوه او ښننه یې زیاته ستایلی ده.

الله تعالی فرمایي:{**خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ** } **الأعراف : ٩٩**

**ترجمه:** ای پیغمبره ! دنرمی او ښښنې لاره غوره کړه د ښو چارو ښوونکی اوسه اوله ناپوهانو مخ واړوه سره

الله تعالی فرمایي: {**فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الظَّالِمِينَ**}**الشوري : ٤٠**

**ترجمه:** پس څوک چې عفوه وکړي او اصلاح وکړي دهغه اجر پر الله دی، پرته له شکه الله-جل جلاله- ظالمان نه خوښوي.

الله تعالی عفوه او ښښنه د پرهیزګارانو صفت ګرځولی دی. الله تعالی فرمایي: {**وَسَارِعُواْ إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ، الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ**}**آل عمران : ١٣٣ - ١٣٤**

**ترجمه:** پر هغه لاره په منډه منډه وځغلئ چې ستاسې د پروردګار د ښښنې او د هغه دجنت خواته تللې ده چې هغه لکه د آسمانونو او ځمکې په شان پلن دی او هغه له پرهیزګارانو خلکو لپاره تیار کړای شوی دی . دهغو لپاره چې د ښادایئ او بیوزلی په دواړو حالاتو کې مال مصرفوي،غوسه خوري او د نورو تیروتنې ورته ښښي، داسې نیکان خلک د الله ډیر خوښ دي .

(**جعلت جارية لعلي بن الحسين تسكب عليه الماء فتهيأ للصلاة فسقط الإبريق من يد الجارية على وجهه فشجه فرفع علي بن الحسين رأسه إليها فقالت الجارية إن الله عز وجل يقول والكاظمين الغيظ فقال لها قد كظمت غيظي قالت والعافين عن الناس فقال لها قد عفا الله عنك قالت والله يحب المحسنين قال اذهبي فأنت حرة**) **شعب الإيمان - البيهقي**

**ترجمه:** د حضرت علی ابن الحسین رضي الله عنه یوه وینزه وه چې هغه ته به یي اوبه ور اچولی او هغه به لمانځه تیاریده دهغې وینزې دلاس څخه دعلي ابن الحسین رضي الله عنه په مخ باندې لوټه ولویده او هغه یي زخمي کړ، علي ابن الحسین رضي الله عنه ورته وکتل ، هغه وینزې ورته دا آیت کریمه تلاوت کړ: (والکاظمین الغیظ)، علي رضي الله عنه ورته وفرمایل: هو خپل قهر مې کنترول کړ، بیا یي ورته داآیت کریمه تلاوت کړ : (والعافین عن الناس) علي رضي الله عنه ورته وفرمایل: الله تعالی درته عفوه کړی ده. بیا یي ورته داآیت شریف تلاوت کړ:(والله یحب المحسنین) علي ابن الحسین رضي الله عنه ورته وویل: ځه لاړه شه ته آزاده یې.

الله جل جلاله فرمایلي دي:{**وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ**}**النور: (٢٢)**

**ترجمه:** دوی باید عفوه وکړئ او ښښنه وکړي آیا تاسو دا خوښه نه ګڼئ چې الله تعالی درته ښښنه وکړي،بیشکه الله تعالی ښښونکی او مهربانه ذات دی.

عفوه او ښښنه دالله تعالی دمغفرت سبب دی. الله جل جلاله فرمایي:{**وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ**} **التغابن: (١٤)**

**ترجمه:** که چیرې تاسو عفوه وکړی او دښښنې لپاره دګناهګارڅخه مخ واړوی او ښښنه ورته وکړی، بیشکه الله تعالی ښښونکی او مهربانه ذات دی.

په پورتني آیت شریف کې د بنده دعفوې په مقابل کې الله تعالی خپله عفوه دجزا په توګه ذکر کړی ده.

عفوه او ښښنه تقوی ته ډیره نږدی ده. الله جل جلاله فرمایي:{ **وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ**} **البقرة:(٢٣٧)**

**ترجمه:** او داچې تاسو عفوه کوی دا ډیره نږدې ده تقوا ته او مه هیروئ مهرباني په خپلو منځو کې ، بیشکه الله تعالی د هغه څه چې تاسو یې کوی لیدونکی دی.

بندگانو ته عفوه او ښښنه د الله جل جلاله دعفوې او ښښنې لامل گرځي:{ **إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا} النساء: (١٤٩)**

**ترجمه:** که چیرې ښکاره کوی نیکي او یایي په پټه کوی او یا له بدئ څخه عفوه کوی، بیشکه الله تعالی دی ښښونکی قدرت مند ذات دی.

الله تعالی خپل پیغمبر ته په عفوه امر کړی دی: {**فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ} آل عمران : ١٥٩**

**ترجمه:** (او ای پیغمبره !) دا د الله تعالی لوی رحمت دی چې ته د دې خلکو لپاره ډیر نرم خویه جوړ شوی یې که داسې نه وای او ته تونـد خویه او سخت زړی وای، نو دا ټول به ستا له شاوخوانه خواره شوي وو د دوی خطاوې وبښه د دوی لپاره ښښنه وغواړه او په چارو کې ورسره مشوره وکړه بیا چې ستا اراده پرکومه رأیه ټینگه شي، نو پر الله توکل وکړه، د الله -جل جلاله -هغه خلك خوښیږي چې په الله تعالی توکل کوونکي وي.

په یو بل ځای کې الله تعالی فرمایي : {**وَلاَ تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلاَ السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ . وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلاَّ ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ} فصلت : ٣٤ – ٣٥**

**ترجمه:** او ای پیغمبره ! نیکي او بدي یو شانته نه دي ته د بدئ مخنیوی په هغې نیکی سره وکړه چې هغه ډیره ښه وي ته به وگورې چې له تاسره چې د چا دښمنې لویدلي وه هغه به دې لکه صمیمی دوست شي. دغه صفت نه په برخه کیږي مگر هغه خلکوته چې صبر کوي او دغه مقام نه په برخه کیږي مگر هغه خلکوته چې د غټې برخې خاوندان دي .

همداراز په بې شمیره آحادیثو کې د عفوې او ښښنې په اړه زیات فضائل بیان شوي دي.

عفوه ، ښښنه او تیریدنه دجنت دحورو لامل دی.

**عن معاذ رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم، قال :(من كظَمَ غيظاً وهو يستطيعُ أن يُنفِّذهُ دعاهُ اللهُ يومَ القيامةِ على رُؤوسِ الخلائِقِ حتى يخيرهُ في أيِّ الحُورِ مَاشاءَ) رواه ابوداود**

**ترجمه:** له معاذ رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل : هرڅوک چې خپله غوسه وزغمي په داسې حال کې چې په غچ اخیستلو یې وس وي، الله تعالی به دی د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوغواړي، ترڅو د جنت له حورو څخه چې کومې غواړي هغه ځان ته غوره کړي.

عفوه او ښښنه د مغفرت او رحمت سبب دی.

**عن جرير رضي الله عنه أنَّ النَّبي صلى الله عليه وسلم قال:( مَن لاَيرحَم لاَيُرحَم، ومَن لاَيغفِرلاَيُغفَرُ لَه) رواه البخاري**

**ترجمه:** له جریر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: څوك چې رحم نه کوي په هغه رحم نه کیږي او څوك چې ښښنه نه کوي هغه نه ښښل کیږی .

په يو بل روايت کې راځي: **عن عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما أَنَّهُ قالَ في قوله تعالى : (خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ ) أَمَرَ اللهُ نَبِيهُ صلى الله عليه وسلم أن يأَخُذَ العَفوَ مِن أخلاَقِ النَّاسِ). صحيح البخاري**

**ترجمه:** له عبدالله بن زبير رضي الله عنه څخه روايت دی ؛ هغه وايي : الله جل جلاله د دې آيت : (**خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ** ) په هکله خپل پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته امر کړی چې عفوه د خلکو له اخلاقو څخه واخله ( د هغوی په کړنو او ويناوو کې له هغوی سره نرمي وکړه).

**وروى سفيان بن عيينة أن النبي صلى الله عليه وسلم حين نزلت هذه الآية قال : يا جبريل ما هذا قال : لا أدري حتى أسأل العالم. ثم عاد جبريل ، وقال:يا محمد إن ربك يأمرك أن تصل من قطعك ، وتعطي من حرمك ، وتعفو عمن ظلمك) أدب الدنيا والدين للماوردي**

**ترجمه:** سفيان ابن عيينه فرمايي کله چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت کريمه نازل شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ای جبرائيله داڅه دي؟ جبرائيل عليه السلام وفرمايل: نه پوهيږم ترڅو دعالم ذات څخه پوښتنه وکړم. بيايي وفرمايل: ای محمده! ستا رب درته داسې امر کوي هغه څوک چې خپلولي درسره قطع کوي هغه سره خپلولي وپاله او هغه چاته ورکړه ورکوه چې ته يي محروم کړی يي او هغه چاته عفوه او ښښنه کوه چې پرتايي ظلم کړی وي.

عفوه او ښښنه دانسان عزت زياتوي. **عن أبي هريرة رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (مَازادَ اللهُ عَبداً بِعَفوٍ إلاَّ عِزاًّ، وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ للهِ إلاَّ رَفَعَهُ اللهُ) رواه مسلم**

**ترجمه:** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : الله نه زياتوي د بنده لپاره په عفوې او ښښنې سره، مګر د ده عزت او درناوی ـ او هيڅوک عاجزي اوتواضع نه کوي، مګر دا چې الله تعالى د هغه مرتبه لوړوي .

پيغمبرعليه السلام فرمايي او يا ځله عفوه وکړه.**عن عبد الله بن عمر قال : جاء رجلٌ إلى النَّبي صلى الله عليه وسلم، فقال: يارسول الله ! كَم نعفُو عنِ الخَادِمِ ؟ فَصَمَتَ، ثُمَّ أَعَادَ عليهِ الكَلاَمَ، فَصَمَتَ، فَلَمَّا كان فِي الثَّالِثَةِ قال : (اعفُوا عنه فِي كُلِّ يومِ سَبعِينَ مَرَّةٍ) رواه ابو داؤد**

**ترجمه:** له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه وايي : يو سړی د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حضورته راغی او وه يې ويل : ای د الله رسوله ! خپل خادم ته څو ځله عفوه وکړم ؟ نبي کريم صلى الله عليه وسلم چپوالی غوره کړ، هغه سړي بيا خپله خبره تکرار کړه، بيا هم ده مبارک سکوت وکړ ـ په دريم ځل يې وفرمايل : هغه ته په هره ورځ کې آويا ځله عفوه وکړه.

دټولو انسانانو په نسبت رسول الله صلى الله عليه وسلم زيات عفوه کوونکی او ښښونکی انسان ؤ.

**(عن أنس أَنَّ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم قَالَ: أَتَعْجِزُونَ أَنْ تَكُونُوا كَأَبِي ضَمْضَمٍ؟ قَالُوا: يَا رَسولَ اللهِ، وَمَنْ أَبُو ضَمْضَمٍ؟ قَالَ: رَجُلٌ كَانَ إِذَا أَصْبَحَ قَالَ: اللَّهُمَّ إِنِيِّ تَصَدَّقْتُ بِعِرْضِي عَلَى مَنْ ظَلَمَنِي) وفي رواية أبي داؤد: (على عبادك) مسند البزار، سنن أبى داود**

**ترجمه:** امام بزار په خپل سند سره دانس رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی دی ، انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې و فرمايل: آيا تاسو ددې څخه عاجز ياست چې د ابو ضمضم په شان شي؟ يو کس وويل: ابو ضمضم څوک ؤ ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: ابوضمضم داسې شخص ؤ کله به چې سحر شو هغه به وويل: ای الله ! ما خپل عزت په هغه چا صدقه کړی دی چې پرما يې ظلم کړی دی. دابواود په روايت کې داسې راځي :ما خپل عزت ستا په بندگانو صدقه کړی دی. يعنی هغه څوک چې زما په حق کې ظلم وکړي ، ما ورته خپل حق ښبلی دی.

د بخاري او مسلم کې د يوې واقعې مضمون داسې راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د يوې غزوې څخه راوگرځيده او په لاره کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د يوې ونې لاندې ويده ؤ ، ناڅاپه دکفارو څخه يو سړي ورباندې هجوم راوړ په داسې حال کې چې دهغه سړي په لاس کې توره وه، پيغمبر عليه السلام يې را ويښ کړ او ورته يې وويل: ای محمده! (من يمنعک مني) زما څخه به دې څوک خلاص کړي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په ارامه او په ثابت قدمی سره وويل: الله تعالی به مې خلاص کړي. هغه سړی لړزې ونيولو او په رپيدو شو او توره يې له لاس څخه ولويده .رسول الله صلی الله علیه وسلم توره راواخيسته او هغه سړي ته يې وويل: ( ومن يمنعک مني) او اوس به تا له ما څوک خلاص کړي؟ هغه سړي ورته وويل: شه غوره نيونکی. (يعنی نيکه رويه راسره وکړه) بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته عفوه وکړه.

په حديث شريف کې راځي، کله چې مکه مکرمه فتحه شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅيده او له هغو خلکو څخه يي پوښتنه وکړه چې پيغمبرعليه السلام ته يي ضرر رسولی ؤ، پيغمبر عليه السلام يي رټلی ؤ او پيغمبرعليه السلام يي له مکې ويستلی ؤ او داسې يي ورته وويل: (**يا مَعْشرَ قريشٍ، ما تَظنُّونَ أني فاعِلٌ بكُمْ؟ قالوا: خيراً أخٌ كريمٌ، وابنُ أخٍ كريم، قال: فإنِّي أقُول لكم كما قال يوسفُ لإخوَتِهِ {لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ } [يوسف: ٩٢] أذْهَبُوا فَأنْتم الطُّلَقَاء**). [**الشفا بتعريف حقوق المصطفى ، للقاضی عياض**]

**ترجمه:** ای قريشو! تاسو څه فکر کوی چې زه به تاسو سره څرنگه معامله کوم؟ هغوی وويل: مونږ فکر کوو چې ته به له مونږ سره نيک چلند وکړی . ته زمونږ مهربانه ورور يي او زمونږ دمهربانه ورور ځوی يي. بيا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: زه تاسو ته هغه خبره کوم لکه څرنگه چي يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته وکړه زه درته وايم چې{**لاَ تَثْرَيبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ يَغْفِرُ اللهُ لَكُمْ** }(هيڅ ملامتيا په تاسو نن ورځ نشته الله دې تاسو ته ښښنه وکړي) ځئ لاړشئ تاسو آزاد ياست.

سره د توان او قدرت خپل دښمن ته د هغه گناه او خطا وربښل او ورباندې سترگې پټول دسړيتوب صفت دی.

**دعفوې او ښښنې فائدې** :

١. عفوه کول د پرهيزگارانو له صفتونو څخه ده .

٢. په عفوه او ښښنه کې د الله تعالی رضامندي ده.

٣. په عفوه او ښښنه کې تقوا ده.

۴. څوك چې خلكو ته عفوه كوي هغه ته د زړه سكون حاصليږي.

۵. په عفوه او ښښنې سره په دنیا او آخرت كې عزت او درناوی لاس ته راځي.

٦. په عفوه او ښښنې سره د زړه سكون او عزت النفس لاس ته راځي.

۷. په عفوه او ښښنه كې د الله تعالى او دخلكو خوښي لاسته راوړل كيږي.

۸. په عفوه كې د الله جل جلاله د حكم پيروي ده او د هغه امر په ځای كول دي.

۹. دكامل مسلمان نښه داده چې بدئ ته به په نيكئ ځواب وركوي.

۱۰. عفوه، ښښنه او تيريدنه د ټولنې د وګړو ترمنځ مينه او محبت زياتوي .

۱۱. عفوه او ښښنه د دښمنيو او شخړو د تداوم مخه نيسي.

**وصلی الله علی سيدنا محمد وعلی آل سيدنا وسلم**